**د افغانســـــــتان اســـــلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

**۱۵/جمادی الأول/۱۴۴۴هـ ق مطابق۱۸/قوس/۱۴۰۱هـ ش**

# د شرعي حاکم حقوق او د ولس په وړاندې يې مسئوليتونه

**إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله، فلا مضلَّ له، ومن يُضلل، فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله .**

**أمابعد:قال الله تعالى:إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُبِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاءِذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِوَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ}النحل:(۹۰)**

**د اسلامي ټولنې لپاره د شرعي حاکم شتون د ټولنې لپاره ضرورت دی او پرته د شرعي حاکم څخه په ټولنه کې استقرار او امنيت نشي راتللای او عدالت په کې نه پلي کيږي. دا شرعي حاکم دی چې په ټولنه کې عدالت پياده کوي او مسلمانان ديني او دنيوي مسئوليتونو ته متوجه کوي او ددوی ترمنځ په اسلامي شريعت سره فيصلې کوي او اسلامي ټولنه او مسلمانان له شر او فتنو څخه ژغوري.**

**شرعي حاکم دی چې د هر ډول نيکبختی او خوشحالی لپاره زمينه برابروي او د خلکو مشکلاتو ته رسيدگي کوي. همدا وجه ده چې په اسلامي شريعت کې شرعي حاکم او سلطان ته د الله تعالی سايه ، سوری او رحمت ويل شوی دی. (السُّلْطَانُ ظِلُّ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ أَكْرَمَهُ أَكْرَمَ اللَّهَ وَمَنْ أَهَانَهُ أَهَانَهُ الله).[ السنة لابن أبي عاصم]**

**ترجمه: حاکم د الله تعالی سوری دی په ځمکه کې، چاچې دده درناوی وکړ په حقيقت کې د الله تعالی اکرام يې وکړ او چاچې دده سپکاوی وکړ سپک به يې کړي الله تعالی.**

**اسلامي ټولنه دوه پلې لري چې يوه پله يې حاکم او راعي دی او بله پله يې رعيت او ملت دی او دا دواړه يو پر بل ځانگړي حقوق لري .**

**د شرعي حاکم حقوق:**

**شرعي حاکم په خپل رعيت او ملت باندې زيات حقوق لري چې ځينې يې په لاندې توگه دي:**

**۱- اطاعت او تابعداري: د شرعي حاکم له حقوقو څخه د هغه اطاعت او متابعت دی.**

**د شرعي حاکم څخه اطاعت په پټو او ښکاره ټولو حالاتو کې فرض دی.د شرعي حاکم د فيصلو او حکمونو منل لازم دی او د شرعي حاکم د حکمونو او دستورڅخه سرغړونه گناه ده. الله جل جلاله فرمايلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ} النساء: (۵۹)**

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسـول ( داللـه ) او ( حکـم ومنئ ) د خاوندانو د حکم له تاسې ( مسلمانانو یعنی د حاکمانو او مشرانو).

امام ابن جماعه رحمه الله وايي چې د (أُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ) څخه مراد حاکم او د هغه نوابان دي او بل قول دادی چې د أولـو الأمر څخه مراد علمای کرام دي.

د پورتني مبارک آیت په بناء د شرعي حاکم اطاعت په ټولو خلکو باندې په سختی او راحت دواړو حالتونو کې واجب دی، برابره خبره ده چې د شرعي حاکم امر او دستور د چا د طبیعت سره برابر وي او که برابر نه وي. ترهغې پـوری يـې اطاعـت واجب د ی ترڅو پوری چې په ګناه يې امر نه وي کړی، کله چې شرعي حاکم په ګناه امر وکړ، په ګنـاه کـې يـې اطاعـت واجب نه دی.

په يو حديث شريف کې داسې رازي:(عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ حَـقٌّ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ (بِمَعْصِيَةٍ) فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ). وفی روایة ( قَالَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَـلَى الْمَـرْءِ الْمُسْلِمِ فِـيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ ).صحيح البخاري

ترجمه:- د عبدالله ابن عمررضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمـايلي دي ( د شرعي حاکم ) څخه اوريدل او د هغه اطاعت کول واجب دي تر هغې پورې چې په ګناه يې امر نه وي کړی، کله چې پـه ګناه امر وکړی شي بيا اوريدل او اطاعت يې نشته.

ددې حديث په يو بل روايت کې رازي : چې د ( شرعي حاکم ) اوريدل او اطاعت لازم دی په مسلمان باندې پـه هغـه څـه کې چې هغه يې خوښ ګني او يا يې بد ګني.

په يو بل حديث شريف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم يو صحابي ته داسې وفرمايل :( عَلَيْكَ السَّمْعُ وَالطَّاعَـةُ فِي عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ ، وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ). رواه مسلم .

ترجمه:- په تا لازم دی اوريدل د حکم او اطاعت په سختی ستا کې او په آسانی ستا کې، په راحت ستا کې او په بدی سـتا کې.

البته د يادونې وړ ده کوم حقونه چې شرعي حاکم ، امام المسلمين، خليفة المسلمين او امير المؤمنين يې پـه خپـل رعيـت لري، همداسې حقونه د هغه وزيران، واليان او قومندانان هم په خپل ماتحت باندې لري چې د شرعي حاکم له خـوا مقـرر شوی وي.

په يو حديث شريف کې رازي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ-صلی الله علیه وسلم- اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ). صحيح البخاري

ترجمه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : حکم واورئ ( د شرعي حاکم ) او اطاعت وکړئ ( دشرعي حاکم ) ولو که په تاسې امير کړل شو مريی حبشي.

په دې حديث شريف کې اشاره ده د امير ناخوښه منظر او مظهر ته يعنی که داسې څوک په تاسې مقرر شو چې د منظر او مظهر له پلوه ستاسو خوښ نه ؤ، هم اطاعت يې واجب دی. دا ځکه چې د امير په اطاعت کې د شرعي حاکم اطاعت پروت دی.

د اسلام په مبارك دين کې د شرعي حاکم اطاعت ددې لپاره فرض دی چې اسلامي ټولنه د اسلام ددښمنانو، مشکلاتو او باغيانو او نورو فتنو په مقابل کې لکه د يو مستحکم صف په څير وي او د اختلاف او بې نظمۍ مخه ونيول شي.

قاضي عياض رحمه الله وايې: ( أجمع العلماء على وجوب طاعة الإمام في غير معصية). عمدة القاري

ترجمه:- علماوو د امام د طاعت په وجوب باندې اجماع کړی ده په هغه څه کې چې ګناه په کې نه وي.

۲- د شرعي حاکم مرسته او نصرت کول واجب دی.

د شرعي حاکم په خپل رعيت باندې بل حق دادی چې د اسلام او شريعت او دمسلمانانو د صف د وحدت په موخه د شرعي حاکم سره مرسته او نصرت په رعيت او ملت باندې واجب دی.
شرعي حاکم چې د الله تعالی د دين او د شريعت نمايندګي کوي او د اسلامي ټولنې محافظ دی ، د هغه سره مرسته او نصرت کول په حقيقت کې د اسلامي شريعت او مسلمانانو سره مرسته کول دي.
امام ماوردي رحمه الله وايې: کله چې امام (شرعي حاکم) د رعيت حق اداء کړ، په حقيقت کې ده دالله تعالی حق اداء کړ او دداسې امام چې د رعيت حق يې پوره ادا ء کړی وي دوه حقونه دي دهغه اطاعت کول او د هغه سره مرسته کول.[الاحكام السلطانية]
امام ابن جماعه وايې: د حاکمانو سره ظاهرا او باطنا مرسته او کومك کول د هغوی د حقوقو څخه دي او د دوی سره د خپل توان په اندازه مرسته کول په حقيقت کې د مسلمانانو سره مرسته کول دي او ددين حرمت په ځای کول دي او دمتجاوزينو لاس لنډول دي.[تحرير الاحكام]
۳- د شرعي حاکم احترام، عزت او درناوی کول.

د شرعي حاکم احترام، عزت او درناوی کول شرعا واجب دی او په دی سره د حاکم او رعيت ترمنځ محبت زياتيږي، نزاع او اختلاف له منځه ځي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:( إنّ مِنْ إجْلالِ الله إكْرامَ ذِي الشَّيْبَةِ المُسْلِمِ وحامِلِ القُرْآنِ غَيْرِ الغالي فيهِ والجّافي عَنهُ وإكْرامَ ذِي السُّلْطانِ المُقْسِطِ). سنن أبي داود.

ترجمه:- د الله تعالی د تعظيم څخه دا هم دي چې د مسلمان سپين ږيري اکرام کول او د قرآن کريم د هغه حافظ اکرام کول، چې په قرآن کريم کې افراط نه کوي او ورسره جفا نه کوي او اکرام د عادل سلطان کول.

په کارده چې د شرعي حاکم قدر او درناوی وشي او ورته په درنه سترګه وکتل شي.

د تاريخ په اوږدو کې داسلام سترو علماوو او ائمه وو تل د حاکمانو احترام کولو او د هغوی درناوی به يې کولو او کوم کسان چې د شرعي حاکم کم ادب کوي دا د سنت لاره نه ده.[تحرير الأحكام]

۴- شرعي حاکم ته نصیحت کول.

په ملت او رعیت باندې د شرعي حاکم له حقوقو څخه ، حاکم ته نصیحت کول دي. رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي:( الدِّينُ النَّصِيحةُ. قلنا : لِمَنْ ؟ قَالَ : للهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلأئمَّةِ المُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ). رواه مسلم .

ترجمه:- دین نصیحت دی . مونږ وویل د چا لپاره؟ رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: د الله تعالی لپاره او د هغه د کتاب لپاره او د هغه د رسول لپاره او دمسلمانانو د حاکمانو لپاره او ټولو خلکو ته.
د الله تعالی لپاره نصیحت په الله تعالی ایمان راوړل دي او دهغه دهدایاتو سره سم عمل کول دي او دالله تعالی د کتاب لپاره نصیحت په هغه ایمان راوړل دي او د هغه په لارښوونو عمل کول دي او د هغه رسول لپاره نصیحت په رسول الله ایمان راوړل دي او د هغه په دین عمل کول دي او دمسلمانانو حاکمانو ته نصیحت هغوی ته سمه لاره ورښودل او د خطرونو څخه یې ژغورل دي.
امام نووی رحمه الله وایې د مسلمانانو ائمه وو ته نصیحت د هغوی سره مرسته او دهغوی طاعت کول دي او په نرمۍ سره هغوی هغه څه ته متوجه کول دي چې هغوی ورڅخه ناخبره وي.[شرح النووی]
په یو حدیث شریف کې رازی:(إِنَّ اللَّهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلَاثًا ، وَيَسْخَطُ لَكُمْ ثَلَاثًا: يَرْضَى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ، وَأَنْ تُنَاصِحُوا مَنْ وَلَّاهُ اللَّهُ أَمْرَكُمْ). مسند أحمد

ترجمه:- بیشکه الله تعالی ستاسو په دری خبرو راضي کیږي او په دری خبرو په قهر کیږي.ستاسو څخه په دې راضي کیږي چې د هغه عبادت وکړئ او شریک ورسره هیڅ شی مه نیسئ او دا چې منګولی ولږوئ د الله تعالی په رسۍ( قرآن) ټول او اختلاف مه کوئ او داچې نصیحت وکړئ هغه چاته چې الله تعالی حاکم کړی دی ستاسو په کار باندې.

د مسلمانانو حاکمانو ته نصیحت کول باید چې په پټه اوځان ته ځای کي وي، د خلکو په مخ کې یا په عامو مجالسو کې حاکمانو ته نصیحت کول د نصیحت له اصولو مخالف عمل دی. انکار په ښکاره ترسره کیږي او نصیحت په پټه سره ترسره کیږي.

په یو روایت کې رازي:(قَالَ عِيَاضُ بْنُ غَنْمٍ لِهِشَامِ بْنِ حَكِيمٍ أَلَمْ تَسْمَعْ بِقَوْلِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنْصَحَ لِذِي سُلْطَانٍ فَلا يُبْدِهِ عَلانِيَةً وَلَكِنْ يَأْخُذُ بِيَدِهِ فَيَخْلُوا بِهِ فَإِنْ قَبِلَ مِنْهُ فَذَاكَ وَإِلا كَانَ قَدْ أَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ).[ السنة لابن أبي عاصم]

ترجمه:- عیاض ابن غنم رضي الله عنه هشام ابن حکیم ته وویل آیا تا د رسول الله صلى الله علیه وسلم دا قول نه دی اوریدلی:څوک چې غواړي د سلطنت خاوند ته نصیحت وکړي نصیحت دی ورته نه کوي په ښکاره بلکې هغه دې د لاس څخه ونیسي او هغه دی ځان ته کړي ، که چیرې یې له ده څخه نصیحت قبول کړ خو ښه ده او که قبول یې نه کړ ، ده خو به اداء کړی وي هغه څه چې په ده باندې ؤ.

د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه آیا په امام باندې په علني توګه انکار کیدای شي؟ هغه ورته وویل: نه.بلکې دا دی ورته وړاندې کړي په پټه سره.

**۵- د شرعي حاکم په لغزش باندې صبر کول.**

**دا چې حاکم بشر دی که چیرې د شرعي حاکم څخه کوم داسې کار صادر شي چې له امله یې چا ته زیان ورسیږي، لازم ده چې وربانديې صبر وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:( مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْراً فَمَاتَ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً). صحیح البخاري.**

**ترجمه: چاچې د خپل امیر څخه داسې څه ولیدل چې ورته بد ښکاره کیده باید چې پر هغې صبر وکړي، بیشکه څوک چې د جماعت څخه جدا شي یوه لویشت او بیا مړشي مړ به شي په شان د جاهلیت د زمانې مرګ.( په ګمراهی باندې چې د امام اطاعت نه کوي).**

**په دې حدیث شریف کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کوي چې که څوک د شرعي حاکم څخه کوم داسې څه ووینې چې دده د مزاج سره برابر نه وي او یا شرعا کوم مشکل ولري باید وربانديې صبر وکړي او کوښښ دې نه کوي چې د حاکم له بیعت څخه ځان وباسي او د حاکم په مقابل کې قیام وکړي؛ ځکه د شرعي حاکم په مقابل کې قیام کول بده خاتمه لري.**

**٦- د شرعي حاکم په مقابل کې د قیام څخه ځان ساتل.**

**د شرعي حاکم له حقوقو څخه دا هم دي چې باید دشرعي حاکم له بیعت او طاعت څخه بیرن نشو ځکه د شرعي حاکم په مقابل کې قیام کول حرام او کبیره ګناه ده .**

**شرعي حاکم د ملت او رعیت د وحدت سمبول دی او څوک چې د شرعي حاکم مخالفت کوي او دمسلمانانو وحدت له منځه وړي داسې شخص ته باغي او خارجي ویل کیږي.**

**په حدیث شریف کې رازي:(مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْراً فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلاَمِ مِنْ عُنُقِهِ). سنن ابي داوود**

**ترجمه:- څوک چې د مسلمانانو له ډلې جدا شو یوه لویشت ، په تحقیق سره ده وویستله کړی د اسلام له خپلې غاړې څخه.**

**امام طحاوي رحمه الله فرمایي: (مونږ جائز نه بولو دخپلو امامانو او چارواکو په مقابل کې قیام کول، ولو که دوی ظلم کوي او دوی ته بدی دعاوې هم نه کوو او نه وباسو مونږ خپل لاسونه ددوی د اطاعت څخه او ګڼو مونږ ددوی اطاعت د الله د اطاعت څخه ګڼو). [عقیدة الطحاویة]**

**امام ابوزرعه رازی رحمه الله فرمایې:( مونږ ولیدل علماء په ټولو ښارونو کې په حجاز کې او عراق کې، په شام او یمن کې ددوی دا مذهب وو چې د حاکمانو په مقابل کې قیام کول جائز نه دی او مونږ اورو او اطاعت کوو د هغه چا چې الله تعالی زمونږ په کار مقرر کړي دي او مونږ لاس خپل ددوی د اطاعت څخه نه وباسو). [شرح أصول اعتقاد أهل السنة للالکائي]**

**٧- شرعي حاکم ته دعاء کول.**

**د شرعي حاکم له حقوقو څخه هغه ته دعاء کول دي. پیغمبرعلیه السلام مونږ ته ددې ترغیب راکړی دی چې خپل شرعي حاکم ته دعاء وکړو او ورسره محبت ولرو.**

**په حدیث شریف کې رازي:(خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ، وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ ، وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ، وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ). صحیح مسلم.**

ترجمه:- غوره امامان ستاسو هغه دي چې تاسو ورسره محبت کوی او هغوی له تاسو سره محبت کوي او تاسو ته دعاء کوي او تاسو هغوی ته دعاء کوی او بد ترین امامان ستاسو هغه دي چې تاسو ورسره کینه ساتی او هغوی له تاسو سره کینه ساتي او تاسو ورباندې لعنت وایی او هغوی پر تاسو لعنت وایې.

امام طحاوی رحمه الله وایي: مونږ ائمه وو ته دعاء کوو دهغوی د صلاح او عافیت لپاره.[عقیدة الطحاویه]

همدا راز د امام فضیل ابن عیاض او احمد ابن حنبل څخه روایت دی هغوی به ویل: که چیرې زما لپاره مستجابه دعاء وای نو ما به خامخا سلطان ته کړی وه).[حلیة الأولیاء]

۸- د شرعي حاکم څخه دفاع کول .

د شرعي حاکم له حقوقو څخه دا هم ده چې په ځان، مال باندې د هغه څخه دفاع وشي.
امام ابن جماعه رحمه الله وایې:( د شرعي حاکم څخه په قول او فعل، په مال، نفس او اهل ، په ښکاره او په پټه د هغه څخه دفاع کول د شرعي حاکم حق دی).[تحریر الاحکام]
هر کله چې ملت او رعیت د شرعي حاکم حقوق اداء کړي په نتیجه کې به ټولنه د اختلاف، شخړو څخه پاکه وي او په ټولنه کې به خوښي، عدالت، د صفونو یوالی وي او ددښمن په مقابل کې به مسلمانان یو موټی وي او په هرمیدان کې به کامیابي د مسلمانانو په برخه وي.
د شرعي حاکم د ولس په وړاندې مسئولیتونه:
شرعي حاکم د ولس په وړاندې مسئولیتونه لري چې ځینې یې په لاندې توګه دی:
۱- ددین حفاظت: ددین د اصولو حفاظت هغه چې سلف الصالحینو ورباندې اجماع کړی ده.
شرعي حاکم باید دین د ژوند په ټولو برخو کې تطبیق کړي. باید هیچا ته اجازه ورنکړل شي چې ددین داحکامو څخه سرغړونه وکړي او که چیرې ددین داحکامو په اړه ورته کوم شک او شبهه پیدا شوه هغه باید حل کړي او که چیرې بیا هم د دین څخه په وتلو باندې یې اصرار کولو ددین حکمونه دې ورباندې تطبیق شي هغه شان چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( من بدل دینه فاقتلوه) نسائي. چاچې دین خپل بدل کړ وه یې وژنئ.

باید شرعي حاکم ددین د حفاظت په موخه دیني مدارس اعمار کړي او درس او تدریس ته باید رشد ورکړي او د علماوو اکرام وکړي او د علماوو څخه ددین دحفاظت لپاره مشورې واخلي.

۲- دخصومت او شخړو فیصله کول او د دیني احکامو تنفیذ: کله چې د متخاصمینو ترمنځ شخړه او خصومت پیدا شي باید د هغوی ترمنځ داسلامي ارشاداتو په رڼا کې موضوع حل او فصل شي او باید چې د شخړه کوونکو ترمنځ په عدالت او انصاف سره فیصله وشي. په داسې طریقې سره چې په ټولنه کې عدالت پلي شي چې بیا ظالم د ظلم جرآت ونه کړي او مظلوم د ضعف او بیچارګۍ احساس ونکړي.

۳- د ښارونو امنیت تأمینول: د امنیت تامینول د وخت د حاکم له اساسي وظایفو او مکلفیتونو څخه دی، ترڅو هرڅوک وکولای شي چې خپل روزمره کارونه په پوره اطمینان سره ترسره کړي او خپل ارامه ژوند ته ادامه ورکړي چې دا موضوع په جامعه کې ځانګړی اهمیت لري.

**۴- دحدودو تطبیق:** شرعي حاکم ته په کاردي چې د خلکو د ځان ، مال ، آبرو او نسل د حفاظت لپاره شرعي حدود نافذ کړي.

او د حدودو تطبیق د وخت د حاکم د وظائفو او مکلفیتونو څخه دي او باید چې شرعي حاکم د اسلام د مقدس دین د هدایاتو او دستور سره سم یې په هغو کسانو نافذ کړي چې په اسلامي جامعه کې د حدودو د جرم او جنایت مرتکب شوي وي او اسلامي ټولنه د نور جرم او جنایت څخه د الهي حدودو په نافذولو سره وژغورل شي.

**۵- د اسلامي سرحداتو او هیواد څخه دفاع کول:** د مسلمانانو څخه او داسلامي سرحداتو څخه فاع کول د مسلمانانو د حاکم له وظائفو څخه دي او باید چې په دې اړه غفلت ونه کړي؛ ځکه د اسلام د دین او خاورې دښمنان په ټول مکر او فریب سره دمسلمانانو خاورې ته متوجه دي، د مسلمانانو حاکم او امیر ته لازم دي چې دومره چمتو والی ولري چې داسلام ددښمنانو خوب او خیال له منځه یوسي؛ لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ }الانفال: (۶۰)

ترجمه: او تیاروئ ( ای مؤمنانو) لپاره ( دجنګ) ددغو څومره چې توانیږئ تاسې له قوت( اسباب دجنګ) او له روزل شوو ساتل شوو آسونو( لپاره دجهاد) چې ویروئ تاسې په دغه ( قوت او تیارۍ) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې.

**۶- د کلمة الله د اعلا لپاره جهاد کول.**

باید چې دمسلمانانو حاکم د دین د نشر او اشاعت لپاره او د باغیانو، خوارجو او د مرتدینو د لمنځه وړلو لپاره مسلح جهادجاري وساتي. په دې سره مسلمانان د کفارو د شر څخه ساتل کیږي.

**۷-د زکات او عشر راټولول:** په شرعي حاکم باندې دملت بل حق دادی چې زکات، عشر راټول کړي او په مستحقینو یې د الله تعالی د حکم سره سم توزیع کړي؛ لکه چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:{ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ}التوبه: (۶۰)

ترجمه:- بیشکه همدا خبره ده چې صدقې( زکات صرفیږي) لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو( مقررو) پر هغه( تحصیل د صدقې) او هغو ته چې الفت اچولی شي په زړونو ددوی کې( له اسلام سره) او (صرفیږي) په (خلاصولو د) غاړو ( دنادارو مکاتبانو) کې، او پور وړو او په لاره دالله کې، او ( صرفیږي لپاره د)مسافرانو( چې مال ورسره نه وي)، ( مقرر او لازم کړی شوی دی ده دغه) فریضه ( زکات) له جانبه دالله او الله په هرڅه ښه پوه او دحکمت خاوند دی.

**۸- دعدالت پلي کول:**

دا په حاکم باندې د ولس حق دی چې رعیت د ظلم څخه وساتي او عدالت په جامعه کې پیاده کړي ، خپله هم د ظلم څخه ځان وساتي ، خپل والیان او امیران هم ظلم ته پرې نږدي او ولس پرې نږدي چې یو پر بل ظلم وکړي. که چیرې حاکم ویني چې انسانان یو پربل ظلم کوي او حاکم ددوی د ظلم مخه نه نیسي، حاکم هم په ظلم کې شریک ګڼل کیږي.

د حاکم عدالت د ولس ژوند او د مملکت روح دی او پرته له روح څخه د جسد بقاء نشت ده، نو شرعي حاکم ته په کاردي چې په عدالت اعتماد وکړي اوورباندې تکیا وکړي ځکه په عدالت کې د بندګانو مصالح پراته دي.

عدالت د الله تعالی حکم دی : {إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ}النحل: ۹۰

ترجمه:- بیشکه الله امر کوي په عدل( انصاف) سره او په احسان سره.

په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى} المائدة:8
ترجمه:- او باعث دې نکړي تاسې دښمني د يوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونکړئ تاسې. عدل ( انصاف ) وکړئ تاسې، همدا ( عدل ) ډير نږدې دی تقوی ( پرهيزگاری ) ته.
په يو حديث شريف کې رازي: ( يَوْمٌ مِنْ إِمَامٍ عَدْلٍ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةٍ ) السنن الکبری للبيهقي
ترجمه:- يوه ورځ د عادل پاچا بهتره ده د شپيتو کالو عبادت څخه.
شرعي حاکم بايد قوانين او شرعي دستورونه يو شان په خلکو پلي کړي، که چيرې حاکم پرته له اسثناء قانون تطبيق کړي عدالت رامنځ ته کيږي.
حضرت عمر رضي الله عنه به واليانو او اميرانو ته ويل خپل آسونه او سلاح د خپل معاش څخه راونيسئ او لاسونه بيت المال ته مه نږدی کوئ او خپلې دروازې د خلکو په مخ مه تړئ.[التبرالمسبوک في نصيحة الملوک، للغزالي]
حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضي الله وايي چې يو ه شپه زه عمر رضي الله عنه ځان ته وغوښتم او راته يې وويل: يوې قافلې د مديني منورى دروازې سره اړولي دي زه ويريږم چې هغوی به د شپې ويده شي او سامان به يې څوک غلا کړي، زه ورسره لاړم کله چې هلته ورسيدو ماته يې وويل: ته ويده شه او هغه خپله ټوله شپه پيره کوله.[التبرالمسبوک]
حضرت عمر ضي الله عنه خپل والي ابو موسی اشعري رضي الله عنه ته وليکل: نيکبخته والي هغه دی چې ولس وربانديې نيکبخته وي او بدبخته والي هغه دی چې دده په وجه ولس بدبخته شوی وي.
د عدالت د امنيت سره تړلی دی او عدالت د امنيت په راوستلو کې رغنده رول لوبوي.
کله چې هرمزان حضرت عمر رضي الله عنه ته دداخليدو اجازه وغوښتله وه يې ليدل چې هلته نه پهره دار شته او نه دروازچي چا ورته وويل: چې اميرالمؤمنين په مسجدنبوي کې دی. هرمزان هلته ورغی گوري چې حضرت عمررضي الله عنه دشگو په ډيري ويده او دره يې په مخ کې پرته ده. هرمزان چې دا حالت وليد وه يې ويل: (يا عمر عدلت فأمنت فنمت!) ای عمره عدالت دی کړی دی او امنيت دی راوستی دی ځکه ويده يې.[ سراج الملوک]
همدا راز حضرت عمر رضي الله عنه خپلو اميرانو او واليانو امر کړی ؤ چې واليان او اميران دې د شپې له خوا مديني منورې ته نه داخليږي؛ ترڅو خلک ووينې چې د واليانو او اميرانو په مال کې کوم زيادت نه دی رغلی.
د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه واقعه:
حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د ټوکر خرڅولو څخه ځان ته معاش برابرولو، کله چې خلافت ته ورسيد د پخوا په څير سحر يې څادرونه واخيستل او بازار ته د خرڅلاو لپاره لاړ، په لاره کې ورسره حضرت عمر رضي الله عنه مخامخ شو او ورڅخه يې پوښتنه وکړه چې چيرته ځې؟ ابوبکر صديق رضی الله عنه ورته وويل: بازار ته ځم. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: که چيرې ته په تحارت مشغول شی د خلافت کارونه به څرنگه انجام شي؟ ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل: نو بچو او عيال لپاره به نفقه له کومه کړم؟ حضرت عمر رضي الله عنه ورته ويل:رازه چې حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ته ورشو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د امين لقب ورکړی دی، هغه به تاته د بيت المال څخه يو څه مقرر کړي، دواړه د ابوعبيده رضي الله عنه خواته ورغلل. هغه ابوبکر صديق رضي الله عنه ته د يو عادي مهاجر په اندازه متوسط د بيت المال څخه معاش مقرر کړ.
همدا راز ته اوگورئ چې باوجود ددې نه چې دې اميرالمؤمنين دي ، د ټولو اسلامی مملکتونو اختيار ورسره دی ، مگر د بيت المال نه به يې صرف دومره وظيفه اخيسته چې هغه به قوت لايموت وه ( يعنی دومره کمه وظيفه به يې اخيسته چې صرف د دوی د گزارې

خوراك د پاره به كافي وه ) . يو ځل د دوی بي بي د حلوا خوړلو خواهش ظاهر كړو ( چې حلوا ته زمونږ زړه شوی دی ) ، حضرت ابوبكر صديق ﷺ ورته اوفرمايل : زه خو د مسلمانانو د خدمت په وجه د بيت المال نه دا معمولی شان وظيفه آخلم ، ددې نه زيات خود ما سره ( د درهم يا دينارو ) هيڅ گنجائش نشته ( چې تاسو ته يې درکړم او حلوا پرې پخه كړی ) . ددې نه پس دده بي بي د هرې ورځې د خرچې نه معمولي معمولي بچت كولو ، څه ډيره موده پس يې حلوا پخه كړه ، حضرت ابوبكر صديق چې كور ته راغی نو ده ته يې كيښوده ، ابوبكر صديق رضي الله عنه چې دا نوې خوراك په كور كې اوليده نو پوښتنه يې اوكړه : دا حلوا چا راوړي ؟ بي بي ورته وويل چې دا مې د هرې ورځې د خرچې نه معمولي معمولي رقم مثلا يوه يوه پيسه بچت كوله ، په هغې م دا خلوا واخيسته ، او پخه مې كړه . حضرت ابوبكر صديق ورته وفرمايل : ددې نه دا معلومه شوه چې كه زمونږ په روزانه خرچه كې دا يوه پيسه كمه وي نو هم زمونږ گزاره ورباندې كيږي . بيا يې حلوا رواخيسته او بيت المال ته يې اوليږله ، او د آئنده د پاره چې د بيت المال نه روزانه كومه خرچه راتله د هغې نه يې يوه پيسه كټ كړه . فائده : دا د حضرت ابوبكر صديق كمال احتياط دی چې په كوم مال كې د عامو مسلمانانو حق و ( يعنی بيت المال كې ) د هغې نه يې يوه پيسه زياته اخيستل هم نه خوښول .

د حضرت عمربن عبدالعزيز رضي الله عنه واقعه: يو ځل د ا د اختر څخه يوه يا دوې ورځې مخكي حضرت عمر بن عبد العزيز رحمت الله عليه كورته راغلی كه گوري ! په كور كي كوچني بچيان ژاړي كور د زناني " فاطمه بنت عبدالملك " څخه يې پوښتنه وكړه ، چې دا بچيان ولي ژاړي ؟ هغه په جواب كي ورته وايي : چي دوی پر دې ژاړي چي زمونږ ټولو دوستانو او همزولو د اختر د پاره نوي جامې جوړي كړي دي ، او زمونږ پلار اميرالمؤمنين دی ، او زمونږ كپړې زړې او د پينو ډكي دي ، او زمونږ د اختر د پاره نوي كپړې او لباس نسته نو زمونږ پلار دي ، و موږ ته هم د اختر د پاره نو ي لباس و كپړې راجوړ كړی . حضرت عمر بن عبد العزيز رحمت الله عليه ورته و ويل: ای ښځې! دا بچيان صبر كړه زما سره پېسې نشته زه دكمي خوا د دوی دپاره لباس او كپړې برابري كړم ، زه د بيت المال څخه څومره وظيفه اخلم په ډېر مشكل سره په هغه باندي زما چي د دكور د نفقې خرچه پوره كيږي ، نو د بچيانو د لباس د پاره د يو طرفه څخه هم زه بندوبست نه شم برابره ولای .

همدا راز يوه ورځ عمر ابن عبدالعزيز رضي الله عنه مال فيئ په مسلمانانو تقسيمولو ، هغه مهې تقسيمولو چې دده يو ماشوم لاس اوږد كړ او يوه مڼه يې خولی ته واچوله ، حضرت عمر رضي الله لاس ور اوږد كړ او مڼه د هغه ماشوم له خولی څخه راوويستله او په مڼو كې يې كيښوده او هغه ماشوم په منې ژړل او مور ته په ژړا و رغی ، مور يې خادم وليږلو او له بازار څخه مڼه ورته راوړه.

۹- اهل كار ، مخلص ، صادق او كفايت لرونكي كسان په دولتي دندو گمارل. دا د ولس په نظام باندې حق دی چې تولنې ته باكيفيته خدمات وړاندې كړي او شرعي حاكم باندې لازم دي چې ددې كار لپاره شايسته او مخلص كسان به دندو وگماري.

۱۰-د دولت له كاري بهير څخه نظارت كول.ځكه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:( كُلُّكُمْ رَاعٍ ، وَكُلُّكُمْ مسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ). متفق عليه

ترجمه:- هر يو ستاسې څخه حاكم دی او دهر يو څخه به پوښتنه وشي د هغه درعيت په اړه.

۱۱- د ولس د حال احوال پوښتنه كول. دا د ولس په حاكم حق دی چې د ولس له حال څخه ځان خبر كړي او مشكلاتو ته يې رسيدگي وكړي. حضرت عمررضي الله به ويل: ( لو مات جمل بشاطئي الفرات ضياعا لخشيت أن يسألني الله عنه)

ترجمه: كه چيرې مړ شي اوښ د فرات په غاړ او ضايع شي زه ددې څخه ويريږم چې الله تعالی به پوښتنه وكړي له ماڅخه دده په اړه.

۱۲- د ولس د ژوندانه دبهبود لپاره لارې چارې لټول.